لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۱۵/۰۳/۲۸

د پښتونولی حقوقي نورمونو او ارزښتنو ایډیالوژیک بنسټ

دویمه برخه

د پښتونولی ایډیالوژیکی کانسپټ او د پښتون ولس د ملي تأریخ فلسفه

پښتونولي د پښتنو یو نالیکل شوي سیستماتیک دودیزه قانون او یو لرغوني قبایلي کانسپټ دی. پښتونولي د پښتون ولس د فلسفي ژوند او د ولسي فکر لار ده. پښتونولي د پښتنو د ولسي دودیزه ژوند یوایډیالوژیک فلسفي بنسټونځی دی. پښتونولي د پښتي ټولنې خپل ځانګړي فکري ډول، د پښتني ټولنې د نورمونو، ارزښتنو او د ملي سیاسي تاریخ فلسفي ایډیالوژی ده، چې د پلرنو او نیکونو څخه ورته په میراث پاتې شوي ده. پښتواو پښتونولي ده، چې یوافغان پښتون د نړۍ له نورو ولسونو او ارزښتونوڅخه رابیلوي. دپښتونولی پربنسټ پښتون ولس ځانته یو ځانګړي ټولنیز جوړښت او اصول لري. پښتونولي د افغانانو د ملي هویت او د ملي کولتوري هویت ورپېژندلو کې یو ستر ځواکمن عنصر پېژندل شوي. پښتونولي له زرګونه کالونو راهیسي د پښتنو یوه زاړه پاله، محافظه کاره، خپلواکه، ولسواکه او هیوادپاله ملي ایډیالوژی ده. د پښتونولی لرغوني بنکارنده (پدیده) نن هم لکه څوپېړۍ وړاندې د زړو اریایانو په شان د پښتون ولس په سیاسي، حقوقي، کولتوري او ټولنیزوچارو کې خپل ملني شوي نورمونه، ارزښتونه اوبنسټیک جوړښتونه لري. پښتانه د زړو اریایانو یوه ستره لرغوني قبیله ده، چې د زرګونه کالونو راهیسي د امو او اباسین سیندونو ترمنځ استوګنه لري. لوی افغانستان د ټولوپښتنوافغانانو پلارنۍ ګران هیواد دی .لراوبر پښتانه نن په نړۍ کې یو ستر واحد افغان ملت جوړوي .

پښتونولي په نړیوال کلي کې د افغان سترکور، د افغانانو د ملي هویت، د افغانانو د ملي ویاړلي تاریخ فلسفه، د افغانانو د ملي سیاست، د افغان مدني ټولنې پېژند د ټولنیز دودیزه ژوند د کړه وړه ځرنګوالي ستره نښه نښانه او سمبول دی. د افغان پېژندني ځانګړتیاوي او دافغان د ملي کلتورکوډ یا شفر د پښتونولی په منځ زړې کې پروت دی.

د پښتونولی لرغوني قانون اصول،دودنونه، نرخونونه، د قبایلو د کړو وړو او د معنویاتو شفرونه یا کوډکسونه هغه مهال هم په پښتني ټولنه کې چلیدل، کله چې نړۍ کې د نن ورځې مډرن پېچلي حقوقي، عدلي اوقضایي نظام شتون نه درلود. پښتون ولس د پښتونولی منلي شوي نورمونه او ارزښتونه پرته له دولتي کنټرول او پوځي زورځواک څخه د دې لپاره وجداناً په خپله خوښه پرخپل ځان منلي، چې په ټولنه کې سیاسي ثبات او خپل پایښت تضمین کړي، ټولنه کې امن، نظم، مساوات، تولنیزعدالت رامنځته کړي او عملي کړي. ترڅوپه پښتني ټولنه کې د انارشیزم، هرجومرج، ګډوډیو او د خپلمنځي جګړو مخه ونیول شي. پښتونولي د پښتنو په ټولنه کې د ډیرو ناروا دودونو، بې ننګیو، بې عزتیو، ناحقه دعوې، زړه بوګنونکي ظلمونو، ناوړوعملونو او بې ګناه وژنو مخه نیولي ده . پښتونولي پښتون ولس ته په افغاني لرغوني ټولنه کې د منل شوي دودیزه قانون او نرخونو له لارې سوله، عدم تشدد، خیرښېګڼه،منځلاریتوب، عدالت، انصاف او مساوات ته لارښوونه کړي اوکوي . له همدې امله په پښتنواو پښتني ټولنه کې دعدالت، انصاف احساس ژوندی او څښت ډیر دی.

پښتون ولس له همدې امله تراوسه د پښتونولی زوړ دودیزه قانون په خپل غیږ کې ټینګ نیولي دی،ځکه دا قانون یو زوړ روحاني فلسفي قانون دی، د ننګ ، ناموس، حیا اوغیرت ټولنیزه لرغوني قانون دی، د پښتنو د سیاسي روح قانون دی، دا زوړ قانون په ټولنه کې د پښتنود کړه وړه اوملي هویت سره مستقیماً تړاو لري. دپښتونولی تاریخ په مسلسل ډول پنځه زرو کالونوته رسیږي . پښتونولي د انساني سولیزه ژوند لپاره یو شمیر تصوفي، مورالي قاعدې رامنځ ته کړي . پښتونولي پښتنوته په ټولنه کې د مشرتوب، مشرولي، رهبري لارښوونه او په ټولنه کې د انفرادي کړه وړه د پاره معیارنه ټاکلي دي. دپښتونولي منلي شوي نورمونه، ارزښتونه د اکثرو اصیلو پښتنو افغانانو له خوا وجداناً په یو ډیرعالي احساس سره عملي اوساتل کیږي .

دافغانیت قانون د خپل ځواکمن ځواک درلودلو او د خپل مډرن، انټیک یا لرغوني پرنسیبونو لرلو سره،له هر پښتون څخه په کلکه داغوښتنه کوي، چې یوریښتني اصیل پښتون باید خپل حیثیت، وقار،ابرو، عزت النفس، استقلالیت،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خپلواکی، عدالت ،انصاف، میلمه پالنه،مینه،ښنه،بدل او زغم د ټول بشریت په وړاندې په ځانګړي ډول د خپل میلمه په وړاندې ولري . د پښتونولي اصول،نرخونه او ارزښتنو پلي کول له دې سره مرسته کوي،چې پښتنه ټولنه کې ټولنیز عدالت، مساوات ،انصاف او دانعطاف پزیري بلانس یا موازینه وساتل شي. پښتنوته په پښتنه ټولنه کې دپښتونولی د اصولو،نرخو نو، پریکړو دپلي کولو او عملي کولو په بدل کې ځوک دوی ته حق الزحمه یا معاش نه ورکوي، بلکې پښتون ته د خپل ټولنیز مکلفیت او مسؤولیت د ترسره کولو په بل کې دی په ټولنه ستایل کیږي، ویاړ، ښه نوم، عزت ورکول کیږي او دی په پښتنه ټولنه کې په درنښت یادیږي . برعکس د دې، که ځوک خپل ولسي مسؤولیت ادا نکړي، دی په ټولنه کې دشرم، بې ننګي او سرټیټوالي سره مخامخ کیږي، دی د پښتني ټولنه څخه ایستل کیږي او په ځینو مواردو کې د مرګ په سزا هم محکوم کیږي .
پښتون ولس دپښتونولی خپل حقوقي نورمونه، آرونه او د دودیزه ژوند ترمینالوجیک ایډیالونه، ارزښتونه په یوشمیرکانسپټي څېړکې کې ویشلي دي . پښتونولي د پښتنو په زاړه پاله محافظه کاره ټولنه کې د پښتنو د کړو وړو لپاره یو لرغوني دودیزه نظام او یو منظم ټاکل شوي قبایلي دودیزه قانون دی . پښتونولي د پښتنو یونړیوال انځور او نړیوال فلسفي لیدلوری دی . دپښتونولي د تصوفي، روحاني، معنوي او دټولنیزخیرښېګڼي ارزښتونه او آرونه نه یواځې دمحمد(ص)دعیسی (ع) او د ابراهیم (خلیل الله) په دین کې خپلې ریښې لري، بلکې د پښتونولي د معنویاتو دودیزه قانون، دننګ اومورال کوډکسونه د لرغوني یونان په قوانینواو کوډکسونوکې هم لیدل کیږي .

د پښتنو د مدني ټولنې کانسپټ

مدني ټولنه یا societas civills یولاتیني توری دی. د مدني ټولنې کانسپټ ډیر اوږد او لرغوني تاریخ لري . په مدني ټولنه کې د ټولنې د وګړو قابلیت اوفعالیت ښودل کیږي، چې دوی ځومړه په خپله خپل ځان تنظیم او منظم کړي دی. یوه مدني ټولنه هغه مهال رامنځته کیږي،کله چې د یوې ټولنې وګړي په خپله خوښه سره یوځای شي،تر ځو دوی خپله په خپلواک او ولسواک ډول پرته له دولتي اغیزو څخه خپل مقصد،مرام او موخې تعقیب کړي . دمدني ټولنې ایډیا یا فکر په خپل بنسټ کې پر دې ټکي را ځرخیږي ،چې دولتي سکتور او شخصي سکتور له یو بل څخه بیل کړي . مدني ټولنه د ټولنې یومودل دی،بې له دې چې په ټولنه کې دزور زیاتي څخه کار واخیستل شي ټولنه دعدم تشدد کرکټر لري او په خپلواک ډول خپل تنظیم شوي نورمونوته ټولنیز ارزښتونه اوجوړښتونه لري . داسي یوه ټولنه یوه مدني ټولنه بلل کیږي .پرته له شکه که پښتنه ټولنه د ټولنپوهنې او ټولنپژندنې له اړخه وڅیړل شي، افغاني ټولنه دانسانیت، اسلامیت، مدنیت، د مدني ټولنې، دخپلواکی او ولسواکی یو لرغوني اوږد تاریخي کانسپټ لري .
کانسپټ concipere یا Konzeption یولاتیني توری دی .کانسپټ ډیر اړخیز مانا وې لري . په لنډه توګه د اوسنیو شته حالاتو، شرایطو یا د ستونزو د حل لپاره سمدستیدیوه طرحې یا یو پلان جوړولو ته کانسپټ ویل کیږي او یا کله چې د یوې موخې لپاره یو جامع هراړخیځ، وسیع عمومي پلان د ځانګړو میتودنو، ارزښتونه او نورمونه له مخې د مالوماتو سره ترتیب اوتنظیم شي، یوکانسپټ بلل کیږي.
په اصل کې کانسپټ یوه فکري طرحه د راتلونکې لپاره ده، کانسپټ دراتلونکې لپاره یو پلان دی چې پرته له جزییاتو څخه جوړیږي. چې راتلونکې په څه ډول ترتیب اوتنظیم شي .طبعي خبره ده، یوه عمومي طرحه په خپله دا جوتوي، چې سخت دریځي په کې نشته او انعطاف پزیري له وریه په کې بریښي. یعني قانون یا طرحه کې یوځه بدلون او سمون راتللي شي. پر همدې بنسټ دپښتون ولس پښتونولي یوه نالیکل شوی طرحه یا یوکانسپټ دی . چې پښتنو د مدني ټولنې د بنسټ لپاره خورا مهم بنسټ ګڼل کیدای شی . دپښتونولي طرحه په تیره یا کاڼي کې لیکلي شوي نه ده .نن پښتني ټولنه کې د پښتونولي د مهمو منل شویو ترمینالوجیکي مصطلحاتو را ټولول او د اسلامي قوانینواو نړیوال بشري حقونو اومدني قوانینو په رڼا کې سمول،رغول او لیکلو ته ځښته ډیره اړتیا احساس کیږي .

اسلامي ایډیالوژی او پښتونولي ایډیالوژی

ایډیالوژی ideologie یا مفکوره یو یوناني توری دی،چې د فکر یاد Idee پوهنې ته ویل کیږي . په ۱۷۷۹ کال کې ښاغلي Antoine Louis Claude Destutt de Tracy ایډیالوژی د یوه نوې پوهنې په نامه ونومولې . ایډیالوژی د یوې ډلې، د یو ولس نړۍ لید، نړیوال انځور یا د فلسفي ارزښتنو سیستم ته ویل کیږي. د نن ورځ په

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ورځيني سياسي ژوند کي د ايډيالوژۍ توري د ټولني دفکري لاري، ارزښتونو او د نورمونو سيستم دپاره کاورل کيږي .
د ايډيالوژۍ تاريخ د وګړو او د ټولنې له تاريخ سره ټينګي اړيکي لري .پښتونولي د پښتنو د لرغونو نورمونو، ارزښتونو يو نړيوال ليدلوری او يوه ولسي، سياسي ايډيالوژيکه فلسفي ټولګه ده .
پښتانه پر خپلو قبيلوي ټولنيزو اړيکو يا پښتونولي باندې ځکه ويارې، په دوی کي پښتونولي د ولسواکۍ لومړنۍ ګام او د خپلواکۍ روح او د يو اصل پيل ګڼل کيږي. پښتنو له يوې خوا د پښتونولۍ ريښې داسلام په سپيڅلي دين کي موندلي او له بلې خوا دا د دوی خپل قبايلي لرغوني قانون دی . پښتواو پښتونولي د پښتون ولس خپل ولسي فطرت دی .
پرته له شکه د الله (ج) په نزد ټول انسانان يو شان ته دي، له همدې امله د پښتني قبيلو ترمنځ دخپلوي عزيز ګلوی اړيکي اويا د پښتنوقبايلو ځخه په خپلو کي د ورور ګلوی او ديووالي نړدی اړيکوتمه کيږي . د يووالي اړيکي بايد د دوی په ورځني ژوند کي وليدل شي. ښايي ځيني شتمني پښتني کورنۍ د بې وزلي کورنۍځخه او يا يو پښتون دبل ځخه د انفرادي ټولنيز موقف په لرلو سره له يوبل ځخه بيل کړي، پښتونوالي سره د دې ټولو مادي توپيرونو د پښتنو ځخه د يو بل په وړاندې د درناوي، درنښت، عزت او دانساني کرامت مساوي چلند غوښتنه کوي .
لوی افغانستان کي دمسلمان او پښتون نومونه له يوبل سره نه بيلودونکي ټينګ تړلي نومونه دي . دغه نومونه ديو عمل کوونکي،ايمان لرونکي، صادق، ژمن، ډاډمن، ځواکمن او غيرتمن انسان نوم دی . همدغه عمل کوونکي مسوول مسلمان انسان ځان پښتون در پېژني. عقيدوي ايډيالوژۍ يې اسلاميت او توکمي ايډيالوژۍ يا هويت يې افغانيت دی . پښتون که مسلمان نه وي، هغه پښتون نه دی اوکه مسلمان پښتون ځان پښتون احساس نکړي اوخپل ځان ونه پېژني، هغه پښتون افغان کيدای نه شی. داځکه چې دپښتنوپه کورنوکي داسي کور نه شته چې قران کريم په کي نه وي او دپښتنو په سيمو کي داسي سيمه نشته، چې په هغه کي حجره او جومات ځنګ په ځنګ نه وي . پښتنوکي داسي جومات هم نشته، چې هغه حجره ونه لري. پښتانه له همدغو حجرو او جوماتونو ځخه ښوونځيو، مدرسو او پوهنتونونو ته ورځي .په دغه بهير کي اسلامي ايډيالوژۍ د پښتونولي له ايډيالوژۍ سره يو ځای کيږي. د پښتون ولس دښسټيز وسياسي ايډالوجيکي، ټولنيزو، ناخواليواوستونزو د حل يوه لار له همدغي ځای ځخه پيل کيږي. د افغانستان په دراتلونکي دولتي ملي سياست کي بايد د حجرې پښتون، د جومات پښتون او د پوهنتون پښتون د ځانځاني، ځانپالني، ناپوهي، لنډمهاله، ناکامه سياستونو، تصادونواو ټکرونوته د پای ټکي کيښودل شي . پښتانه يا دافغانستان دولتي ولس بايد دلوی افغانستان د بيا يووالي د سولي او ملي وحدت رامنځ ته کولومسوولیت ومني، دوی بايد دافغانانو ديووالي لپاره د زړه له کومي ملي منځلاري افغانشموله سياستونه پلي کړي . دافغان په ملي دولتونو کي بايد هر افغان او هره افغانه، چې د هرې قبيلې او توکم ځخه وي، خپل ځان اوخپل ملي اسلامي ارزښتونه د يو افغان په جامه کي احساس کړي .تر څو دا ويارلي تاريخي هيواد او ميړني واحد افغان ملت په خپلو پښو ودريږي او د حجرو، جوماتونو، ملت او حکومتونو ترمنځ ستر واټن له منځه وړل شي .
سياست تل له ايديالوژۍ سره تړاو لري .په افغانستان کي پردې بهرني افغان ضد ايډيالوژي لکه کولونياليزم، کمونيزم، امپرياليزم، کيپيټاليزم، شوونيزم سختدريزم او داسي نور ايزمونوته نوره ځای نشته او ټولې پردې ايډيالوژۍ عملاً ناکامي شوي دي. افغانستان کي پردې ايديالوژۍ داسي ښکاري لکه پوډين يا فرني چې دکوټې په ديوال کي ميخ کړل شي .
دافغانانو دافغانيت ملي ايديالوجکي فلسفه پرانسانيت، اسلاميت، دحق، عدلت اوانصاف په لار ولاړه ده. د يوريښتني پښتون افغان انسان عقيده اسلامي او ملي هويت افغان دی .په افغانستان کي داسلاميت اوافغانيت ايډيالوجيکي اتحاد نه ماتيدونکي دی .
دا يوحقيقت دی، چې افغاني ټولنه کي دافغانستان اساسي قانون، اسلامي قوانين، د شريعت قانون او دنړيوالوبشري قوانينو په ځنګ کي د پښتونولي دوديزه قانون دافغانانو ورځيني ژوندتنظيموي .
دپښتنو ټولنه د انصاف او مساوات ټولنه ده، دا به ډيره بې انصافي، بې عدالتي، تيری او ظلم وي، چې د پښتني ښځې خپل خدای ورکړل شوي حق او حقوق ورنه کړل شي .
مور پوهيږو چې ښځه په ټولنه کي مکلفيتونه لري اوحقوق لري . د پښتنو په قبايلي سيستم کي د ښځوحقوق په سمه توګه نه دی څرګند. دا په دې مانا نه ده چې خدای مکړه، چې پښتنه ټولنه کي دپښتني ښځې حقوق نشته. ښځه، خور، مور او لور ده. الله (ج) دوی ته خپل حقوق ورکړي د دغو حقوقو او د بشري بنسټيز حقوقو په ورکولو کي دپښتونولي کوم اعتراض او يا مخالفت نشته. په هيڅ وجه پښتني ښځو ته د خپلو مدني، انساني حقوقو ورکولو سره د پښتنو قبيلوي جوړښتونه نه ماتيږي . بلکي پښتنه ټولنه لانوره د ښځو د فعاليت له لارې ژوندي او ټينګيږي . دپښتني

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ښځې ټکرۍ په خپله د اسلامي حجاب ټکړۍ دی. د اسلامي شریعت مطابق ښځو ته باید په مال او دولت کې او د خپل پلار په پلارني ځمکې کې د میراث خپل ټاکلي حق باید ورکړل شي.
مهر یا ولور د ښځې خپل حق دی، د هغه پلار، ورور، تره او یا بل چاه ته اخیستل مطلق حرام دي . مهر د ښځې خپل مسلم شرعي او قانوني حق دی او هغه څخه د نورو ټولو حقوقو په څیر ګټه اخیستلي شي. هیڅ څوک د ښځې دغه حق نه صلب کولي او نه د صلب کولو حق لري .
پښتونولي نه یواځې د پښتنو د ژوند حقوقي قاعدې ټاکلي، بلکې دهري پښتني او پښتون د پاره د انفرادي ژوند، ټولنیزو اړیکو کړو وړو، جوړښتونه، د ژوند کولو بڼه نورمونه، ارزښتونه او تصورات تقریري تفسیرکړي دي.
پښتني ټولنې کې د پښتونولي ارزښتونو او نورمونو سیستم اساسي ټکي د ننګ، غیرت، ناموس، شرم او حیا مفهومونه دي، چې د ټولنې د ساتنې، ټولنیز اخلاق او د قبایلي نورومونو جوړښتونو ساتل په کې رانغښتل شوي دي یو ریښتني مخکښ اصیل پښتون افغان مکلف دی او دنده ده، چې هر وخت خپل ځان له کمزوریو څخه وساتي، خپله کورنۍ، خپله قبیله، خپل پښتون ولس اوخپله پښتو ژبه له پ ردیوکلتوري یرغلونو، بې شرمي، رسوایي، نوم بدي او سپکاوي اوشرم څخه وژغوري. ترڅو دی په ټولنه کې خپل درونده ځای له لاسه ورنه کړي. (۱)
د ننګ مفهوم په لومړۍ ګام کې یوانفرادي عمل دی، که لږ نوره په کې وړاندې لاړو شو، ننګ یو ډله ییز کانسپټ دی، په ټولنه کې د ښځې او نارینه ننګیالیتوب، میړانه، زړورتیا او شجاعت، امن، نظم او اخلاقي ثبات ته تداوم وربښي. افغاني ټولنه کې ننګ، پټ، عزت، ابرو، حیا او شرافت درلودل سړی د ښه اونیک نوم خاوندګرځوي .
پښتني ټولنه کې ننګ، ناموس، عزت، غیرت او پت د یو پښتون د انساني کرامت تر ټولو ستر مقام بلل کیږي . د پښتنو په اړه د اصل اونسب وني ایډیالوژیکی پوهنیزو څېړني او پلټنې پربنسټ یا Genealogie د پښتنو قومي ولسي سلسله او ایدیالوجک یووالي، دپښتنوتوکمي احساس د(مورِ احساس)یا پښتون اوسیدلو احساس اود پښتونتوب بنسټ د پښتونولي دقبایلي دودیزه ایډیالوژیکی قانون پربنسټ ایښودلي شوي دی .
دپښتونولۍ د بنسټیز اصولومنځ زړي یا ایډیالوژۍ پر دې محور را څرخیږي، چې پښتني ټولنه کې دپښتني قبیلوي هویت، دپښتنو قبیلوي خودمختاري او ورسره جوخت د یو ګډولسي ټولنیز عدالتي نظم را منځ ته کولو په لاره کې یو سیستم وګرځي. دسیستم یوه برخه د پښتنو د نړیوال لیدلوری وربښي اوبله برخه د نن ورځې د پښتون ولس د ژوند روحي هنداره وربښي، د پښتنو د ژوند بڼې او ډولونو په فورمول بندي کولوکې مهمه ونډه لوبوي.(۱)
لویدیځوال شننونکي او څېړونکي لکه Gründerg und Rachimow پښتونولي ته د پښتني قبایلي اخلاق او د پښتنو د کړو وړو سیستم په سترګه ګوري، چې په کې د ټولنیزآداب او اخلاقي پرنسیبونه له یو بل سر تړاو لري.
یو بل لویدیځوال څېړونکي د Snoy په نامه، دپښتونولي غوښتنې، وجود او شتون په اړه لیکي، په پښتونولي کې کړکیچنه یا ستونزمنه خبره د غیرت یا میړاني ښودل او یا د خپل غیرت څخه د دفاع مسله ده . په پښتون کې دغه ځو اکمن احساس یا دغیرت غریزه ښودلو لامل د عدالت دبیرته پرځای کولو لپاره په غورځنګي یا احساساتي ډول را پورته کیږي . ځکه چې دپښتون عزت اوغیرت ته دبې انصافي او بې عدلتي له امله زیان رسیدلي دی، دی باید دپښتونولي د پرنسیب پربنسټ د پښتونولي د سري کړښې څخه هم وانه وړي، ریښتني پښتون مجبور دی، د بې انصافي او بې عدالتي په وړاندې د پښتونولي په ټول کاري چال، دود دستور او د نرخونو په چوکاټ کې یومناسب غبرګون وښایي .
د پښتنوقبایلي دودیزه ژوند، تولنیزنظام او قبایلي نظم د پښتونولي د نورمونو، ارزښتنو، دودنو، نرخونو، روایتونو او رواجونو څخه ډک ژونددی .

د پښتني قبیلې د نسبي ونه او د پښتونولي ایډیالوژۍ

پښتانه یواځې د خپلو پلرنو په نومونو سره ویشلي شوي دي. په پای کې د دوی د پلرونو ټول نومونه یو پښتون غورنیکه ته ورګډیږي . ټول پښتانه د خپلو پلرنو او نیکونو له لارې له یوبل سره خپلوي لري. د پښتنو د اصل اونسب ونه په خپله د پښتون ولس اوږد او لرغوني تاریخ لیکي .
د قوم یا قبیلې تعریف دانتروپولوجۍ Anthropologie له اړخه، قوم یا قبیله یوه سمبولیکه ټولنیزه ډله ده، چې دهغې بنسټ په نورو وړو قبیلو باندې ایښودل شوي وی اودوی تل سیاسي ساتنې اوپالنې ته اړتیا لري. (۲)پښتني قبیلې یا قبایلي ډلې په دودیزه توګه د اصل او نسب یا شجرې له مخې دیو ګډ پښتون نیکه نسل او اولاده ده، چې ګډه ژبه، ګډکولتور او یوه ګډه ملي ایدیالوجۍ لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

قام يا قوم د وګړو يو ګڼ اړخيزه، ټولنيزه تنظيم شوي فورم دی، چې غړي يې د يو نسل څخه او په خپلو کې دخپلوي اړيکي له لاري له يوبل سره يووالي ولري.
په توکمپوهنه Ethnologie او انسانپوهنه Anthropologie کې د قبيلې يا Clan تعريف: قبيلې يا قبايلي ډلې په خپلوکي د خپلوي قومي اړيکي لري او دوی خپل ځانونه د يوګډ نيکه او يا غورنيکه څخه ګڼي. پرته له دې چې دوی خپل قامي کړي يا سرچشمه سمه وښوولي شي .
يو دقيق تعريف د Clan يا قبيلي، چې په انګريزي، الماني ژبو او د څيړونو په ادبياتو کې منل شوي دی، د متحده ايالاتو امريکايي انسانپوه يا Anthroplogiest ښاغلي Georgie P. Murdock (1897 -1985)قبيله داسي تعريفوي: کله چې قبايلي ډلې په خپلو کې د خپلوي اړيکوله لاري په يوه ګډه خاوره يا جغرافيوي قلمرو يا د يو ملي حاکميت لاندي سيمه کې يوځای ګډ ژوند کوي او خپلوي د دوی ترمنځ د يوغور نيکه پربنسټ رامنځته کيږي . زما په اند دقبيلې دغه تعريف د لوی افغانستان دپښتنې قبيلې په اړه ډير ښه اړخ لګوي.
توکم د انسانانو يوه ډله ده ، چې دوی يو ګډکولکټيفي هويت لري . د دوی مشخصات په لاندې ډول دي . يو اصل اونسب يا د نسب يوه ګډه سلسله، ګډ تاريخ، کلتور، ژبه، مذهب او دوی په يوه ګډه خاوره کې، په يو جغرافيوي ملي قلمرو يا د ملي حاکميت له لاری خپل ملي پيوستون ته يوملي احساس لري .(۳) دنړی او دلوی افغانستان په سياسي، حقوقي، ټولنيزو څيړنو، افغاني ادبياتواو رسنيوکي د قبايل يا tribal ترمينالوژيک توری کارول کيږي، دا توری په هيڅ وجهه منفي يا نګټيف مانا نه ورکوي. د قبايل نوم يا د قبايلو توری پوري اړوندو سيمو کې اوسيدونکي وګړو خپله خپلوي له خپل ستر واحد توکم سره ښيي. قبايلي وګړي د قبايل توری په استعمال سره خپل حقوقي شتون اومدني مشروعيت د خپل توکمي سياسي ځواک له لاری سمدستي همدا اوس، همدلته ترلاسه کول او ښکاره کول غواړي . په بله وينا دپښتني قبايلي وګړي د يو ستر توکم يا سترولس قبيلوي واحدونه يا قومي ګروپونه دي، چې دوی په خپلوکي نه يواځې ګډه مورني خاوره، ګډپلارني هيواد، ګډه ژبه، ګډ ملي تاريخ ، ګډدين يامذهب، ګډملي اسلامي مقدسات، دود دستوراوګډ ملي کلتوري ارزښتونه، نورمونه، عزيزګلوی، وروړګلوی او ګډ اقتصاد لري، بلکې د اصل او نسب د پرنسيب پربنسټ دوی له يو بل سره د خپلوي اود ويني جنيټکي نه شليدونکي تاريخي اړيکي هم لري .
د مور به دا يوه ستر تيروتنه او اشتباه وی، چې قبايلي جوړښتونو ته دمنځني پيړي جوړوښتونو په ځير وګورو. له دغې هڅې سره او له دغې زاويه څخه که ورته وکتل شي، بياقبايلي جوړښتونه د ورسته پاتيوالي سره په تړاو کې کيږي .که دافغانستان سياسي دولتي تاريخ وڅيړل شي، له ډيره په خوا څخه دقبايلي جوړښتونو سره د مډنيزم او ملت جوړوني په بهير کې موافقه شوي ده. په نړی کې نن قومي قبايلي جوړښتونه په مډرن ژوند او مډرنو دولتونو په جوړښتونو کې خپل ځانګړي ځای لري .
د پښتنو لرغوني تاريخ، دپښتنوقبايلي ارزښتونه او حقوقي نورمونه نن هم هر پښتون افغان ته ورزده کوي، چې ستا ولس، د ستا دټولنې د هريو غړي وجود او پاييښت، د يو پښتون افغان انفرادي آزادي يا خپلواکی، توکمي ملي هويت، د پښتون د کورستر او پرده، معصونيت، امن، د صميميت او سوليزه فضا، قبيلوي هويت، د پښتنو ستر ټبر او د پلار نيکه هيواد د دښمن د پرله پسې سپين سترګې ګوښونواو يرغلونو سره مخامخ دي. دا د ستا او د هريوی ريښتني پښتني، افغان ايماني او وجداني دنده ده، چې د بهرني دښمن په وړاندې په ويښه او ګډه دفاع وکړي. په همدې ترتيب پښتونولي پښتون ولس ته ورزده کوي، چې د نن ورځ په دغه له دښمني او تربګنېواو سياليو ډکه نړی کې خپل سياسي، حقوقي، ټولنيز ارزښتونه او ولسي شتون په نړيوال کلي جوت کړی او د خپل ولسي يووالي لپاره خپله روا مبارزه په اغيزمنه ټوګه پرته له ويری څخه نوره هم ګړندي کړی. د پښتني افغاني ټولنې هر غړي مجبور دی، د خپلې فردي خپلواکی دساتلو له لاری دکورنی او بهرنی دښمن، د تور او سپين دښمن د پټو او څرګندو بريدونومخه ونيسي. دارتيا او شونتيا په صورت کې پښتون بايد خپل بدل هم تری واخلي. که پښتون افغان داسي ونه کړي، بيانو دی په ټولنه او نړيوال کلي کې خپل ټولنيزپرستيژ، حيثيت، افغاني غيرت، ميړاني، او د عزت ټول ارزښتونه له لاسه ورکوي .
يو پښتون هغه مهال په خپله قبيله او خپل ولس کې منل کيږي، چې دی د خپل ژوند په چاپريال کې افغاني ميړانه، ننګياالتوب، خپلواکي، درنښت او جګړه ييز قابليت په ځان کې ولري .
دی بايد د پښتونولي ارونه ځانګړتياوی نورو ته ور ښکاره کړي. د ريښتينو هيوادپالو افغانانو پښتنو ژوند، غيرت ، عزت،د الله (ج) په لاره کې مبارزه، سربښندنه او د خپل پلارني هيواد خپلواکی لپاره جګړه ټاکي .له همدې امله يوې پښتني کورنی ته خورا مهمه ده، چې په کورکي نارينه ولري. په پښتنه ټولنه کې د پښتون په کورکي دنارينه شتون،

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دوی ته په خپل کلیوالي چاپیریال کي د خپل کورنۍ موقف، امنیت او سوکالي ټاکي او د خپل سر ګرانتي په کي ویني پښتنو کي زوی نه درلودل، دپښتون د کورنۍ ورانۍ او د پلارنو او نیکونو نومونه ورکیدلو په مانا ګڼل کیږي.
پښتني قبیلي اوقبایل دنړۍ له نوي پرمختګ او نوي پالنې سره کومه ستونزه نه لري،له همدې امله قبایلي سیستم له منځه نه ځي. قبایلي سیستم ورو ورو د نړیوالتوب او خپل عالي ملي لرغوني ایډیالوژۍ سره د نن ورځ مدني ټولنه سره اړخ لګوي. د پښتون ستر قام به په نړۍ کي د تل لپاره ژوندی وي او د پښتون ولس کور به په نړیوال کلي کي د یو سوله مل کور په شان شتون ولري. د پښتنو دا خوري وري قبیلي د یوې وني ډډه یا د یوې ستې ښاخونه دي، دپښتون دنسب زرغونه ونه د نړۍ هیڅ یو زبر ځواک نشي رالندې ولي. له همدې امله د پښتون افغان سترولس کي بیلتون نشي راتللي. الله (ج) شاهد دی، چې دپښتون په ولس کي بیا یوالي اراده شته، دپښتنوبیرته یووالي د وخت او زمان سره راروان دی. د پښتون ستر مظلوم ولس به انشاالله نن یا سبا خپل ولسي بیا یووالي نړیوالوته، د انګریز شین سترګي جنرالانوته، د روس سپین سترګي مارشالانوته، د پنجاب تورومخي مېجرانو، اجنټانوته او د ایران تورفکره شیعه پرغلګر اخوندانو ته اعلان کړي.
د یادوني وړ ده: کله چې په ۱۹۹۸ کال کي د برلین دیوال ونړید، دریو میاشتو مخکې له دې ورځې څخه د ختیځې او لوېدیځې نړۍ هیڅ یوسیاسي چارواکي، سیاستوال، سیاسي شننونکي او ځیرونکي دا خیال او تصور نه کاو، چې د برلین دیوال به په داسي اساني سره ونړیږي. د پرنګیانو دامپراتورۍ د ډیورنډ کرښې لمنځه تللوحالت به که الله پاک کول نو له دې حالت سره به ډیر لږ توپیر ولري .

د افغانستان دولت او ملت جوړوني کانسپټ

لوی افغانستان د ټولو لرو او برو پښتنو افغانانوستر ګډکور دی او په دغه هیواد کي له دوی سره لږه کي قومونه د وروړۍ برابر ګډ ژوند کوي . دپښتني قبیلي اوافغان لږه کیوقومونو رول د افغانستان په ملي دولت جوړولو او دافغانستان د ملي سیاستونو په تاریخ کي ډیر اوږد اومهم دی . دافغانستان شریفو، میړنیو، ویښو قبیلو او غیرتمندو، هیوادپالو قومونو په اتلسمه پیړۍ کي د نهو ورځو جرګه کیدو څخه ورسته لوی احمد شاه بابا د لوی افغانستان سترټولواک وټاکلو. د افغانستان محاصر تاریخ، دافغانستان ملي دولت جوړوني او افغان ملت جوړوني په تاریخ که د افغانیت یا دپښتونولي کانسپټ مهم عنصرونه لکه لویه جرګه، مشرانوجرګه، ولسي جرګه،څارنوالي او ستره محکمه رسمأًپه خپل سیاسي دولتي جوړښت کي منلي دي. افغانستان کي د ملي دولت او ملت جوړول په بهیر کي د پښتني قبیلو رول او د پښتنو هویت یعني د پښتونولي دارزښتونو ځواک څوک له پامه نشي غورځولي. ځینو پردیپالو، کمزورو، ناپوهه، مزدور، متعصبو حکومتي چارواکو هڅه وکړه، چې د پښتنو تاریخي ملي هویت د افغانیت اواسلامیت مقدسات او ژبني ټرمینالوجي له پامه وغورځوي،د دغو حکومتونو برخلیک افغانانواوتاریخ ته مالوم دی
لوی افغانستان په خپل ورستي دوه سوه کلن جګړه ییزتاریخ کي تر ډیره بریده د خپل نا متمرکز، پاشلي، ویشلي حالت لرلو سره،په وړو، وړو ډایرو کي دغلچکي یا ګوریلایي ټکتیکي جګړو او مقاومت له لارۍ افغانان په دې وتوانیدل، چې څلور ځلي څلور نړیوال پرغلګرزبرځواکونه، چې د خپل وخت په مډرنو ګوابښمنو وسلو سمبال وو، دخپل افغاني غیرت او پوځي زور ازمویلو په پایله کي د جګړو په ډګر کي په ګډوکړي . له همدې امله ترننه افغانستان د دوه پیړیوراهیسې د نړیوالو د پرلپسې سیاسي لویولوبو یو ستر نړیوال سټیدیوم، جنګي لابراتوار او حربي پوهنتون ګرځیدلي دی .
دولت جوړول state – building او ملت جوړول nation -building کلمات اکثراً په ناسمه او په مترادفه توګه استعمالیږي. افغانستان کي د دولتمشر او د دولتي اداري هنر هم همداسي په ناسم ډول د یوبل څخه نه بیل کیږي. د ملت جوړوني مفهوم یو ستر بحث ته اړتیا لري، چې په کي د ملي هویت عنصر ستر رول لوبوي. د دولت جوړونه مفهوم ستراتیجیکي اړیکوته اړتیا لري، ور سره په هیواد کي دولتي اداره یا بیروکراتي جوړیږي. د ملت جوړوني د بهیرسره بیا کولتوري هویت او اقتصادي سیاست په یوه جغرافیوي ټرلي سیمه کي رامنځ ته کیږي. (۴)
ډیر شمیر د دولتي حقوقو پوهان په دې اند دي، چې یوه بریالي دولت جوړونه، د یو بریالي ملت جوړوني پر بنسټ رامنځته کیږي. د یو ګټور، بریالي او باثباته دولت جوړوني شرط ملت جوړونه ده. د دولت او ملت جوړوني ترمنځ بل ټوپیر دا دی، چې دولت جوړونه د بهرنیو هیوادنو په مرستو او پرمټ هم رامنځ ته کیداي شي، اما ملت جوړونه یواځي د ټولنې د وګړو لخوا تر سره کیداي شي.
د افغانستان ډیر شمیر شننونکي په دې نظر توافق لري، چې افغانستان کي په همداوسنیو حالاتو کي دولت جوړونه د نړیوالي تولنې او نړیوال ځواکونو د لاسوهنې سره سره بریالي نه وو. دوی د افغانستان په دولت جوړونه کي پاتې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

راغلي دي. اوس افغانستان يو failed-state يا يو ناکامه دولت لري .افغانستان کي د مهمو سياسي توکي نشتون لکه دامنيت نشتون، د يوعدلي او قضايي سيستم نشتون، د هيواد پرمختک دپاره دبنيادي پروژو نشتون، د فساد څخه ډکه اداره، د دولت په سياسي بهير باندي دخلکو لږ بارو، افغان ولس د دولت په سياست کي خپل ملي ارزښتونه او ملي هويت نه احساسوي، د دولت او خلکو ترمنځ يو ډير ستر واټن رامنځ ته شوي دی . داسي نور لاملونه شته چې افغانستان کي يو ناکام دولت رامنځ ته شي .

بشاغلي Schetter ليکي، د افغانستان تيرتاريخ ته په کتو سره بايد وويل شي، افغانستان کي د ملت جوړوني کانسپټ تل په يوه پښتني پوهه او د يو پښتني تفکر لاندې ليکلې شوي دی .په دې مانا که موږ غواړو، چې په افغانستان کي سمه ملت جوړونه ترسره کړو او لکه چې تل دا هڅه شوې، د افغانستان د ملت جوړونه په بهير کي دپښتنو ملت جوړوني له نمونې او يا دپښتنود توکمې سمپل څخه بايد کاراخيستل شي. په دغه سمپل يا نمونه کي نه يواځې ملي سندره، ملي اټن، ملي جامې اوجګې شملې شاملې دي بلکې د پښتنو دود دستور او د پښتونولي کانسپټونه شامل دی .

افغانستان يو ګڼ توکميزه هيواد دی، که په افغانستان کي په ميټوديک ډول ملت او دولت جوړونه پلي کيږي، بايد ټولو وګړو، سياسي واحدونو او واقعيتونوته پام وشي.

دولتونو دي، چې خوار واره ولسونه سره يو ځای کولي شي، مليتونو او د قبايل له واحدونوڅخه د ملي هويت پربنسټ يو ځواکمن واحد افغان ملت جوړيدلي شي .

دپښتونولي قانون د ليکلو او لږ سمون څخه ورسته کيداسي، چې دافغانستان دراتلونکي دولتي، حقوقي نظامونو بنسټ کيږدي .د پښتونولي حقوقي منلي شوي نورمونه د افغان ولس له خوا به ډير ښه ډول منلي شوي دي. د پښتونولي قانون ډيرو نورمونه او اصول د افغانستان د لږکيوتوکمونوباندې خپله اغيزه هم شيندلي ده . دوی د پښتونولي سره ښه بلد شوي دي. په بله وينا د افغانستان ټول وړونه قومونه دپښتونولي نورمونو ته ورته حقوقي دود دستور او يا تعاملات لري .لکه ميلمه پالنه ،ننګ،غيرت، ناموس،خان ملک او هيوادپالنه .

د لوی افغانستان په کلیو او بانډو کې د پښتنو افغانانو قبايلي کلتور افغانيت خپور دی. پښتنو په افغانستان کي خپل سړيتوب، ميلمه پالنه، عزت، غيرت، ميړانه، د ننګياليتوب او د توريالیتوب ويارونه او خپل د خپلواکي جګړه يز تاريخ د نورو لږه کيو ورونو سره سم شريک او ويشلي دي او لږه کيو ورونو قومونودپښتنو سره په ګده د هيواد خپلواکۍ، دسوکالي، ابادي لپاره ټينګه ملا تړلي ده .

په افغانستان کي د پښتنو افغانانو تاريخي رول، دولتي ځواک او د دولت بنسټ ايښودلو ابتکار سره دپښتونولي منل شوي نورمونو او ارزښتونو سيستم د نورو لږکيو قومونو له خوا هم منل شوي او عملي کيږي .

دافغان حکومت سره فعلاً د افغان ملت جوړوني او د افغانانو لپاره د يو ګډ ملي مذهبي هويت سياست يومنل شوي تعريف او يوه ويښه ملي سياسي ستراتيجۍ نشته .

د دويمي برخي پای

اخيځليکونه:

Willi Steul: Steul 190 .Seite 255 ff 1.
Pashtunwali und Widerstand – Stammesgesellschaft im Staat: Die Pashtunen in Paktia In: Berliner Institut für vergleichende Sozialforschung [Red.: Kurt Greussing u. Jan-Heeren Grevemeyer] (Hrsg.): *Revolution in Iran und Afghanistan – mardom nameh – Jahrbuch zur Geschichte und Gesellschaft des Mittleren Orients* Syndikat, Frankfurt am Main 1980, S. 250-263, ISBN 3-8108-0147-X

2. Britninnica Encyclopedia,Retrieved November 8. 2012, fromBritnnic Encyclopedai

3. Georg Elwert: Ethnie , in Christian F. Feest, Hans Fischer und Thomas Schweizer
(Hrsg) , Lexikon der Verkerkunde, Dietrich Reimer Verlag , Stuttgart 1999, S 99 f .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

4. Schetter 2002 ,Seite 3
Schetter, C. Ethicit nd the Politics Reconstrucktion in Afghanistn .
Bonn: Center for Development Studies (ZEF) , Universität of Bonn
.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ